# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې شپږمه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲٦مه | ۵۰۲یمه گڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### مورا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

مورا په کابل کې یوازینی د ښځینه وو لپاره جوړ شوی هغه تعلیمي او تحصیلي بنسټ دی، چې له وړکتون نیولې تر ښوونځي، نیمه لوړو زده کړو او لوړو زده کړو پورې یې خدمات چمتو کړي دي.



### کرنې ریاست: روان میلادي کال به په هلمند کې نږدې دوه زره نوي بڼونه جوړ شي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکو ویلي، چې د دغه ولایت په قوریو او نرسریو کې څه باندې یو میلیون مېوه لرونکي او بې میوې نیالگي روزل شوي او په فني او مسلکي توگه وېش ته چمتو شوي دي.

د دغو نیالگیو له ډلې، ۱۲۰ زره یې د یاد ولایت د کرنې ریاست اړوندو قوریو کې او پاتې ۹۰۰ زره نور هغه یې د دې ادارې تر څار لاندې د خصوصي سکتور له خوا روزل شوي دي.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي: «په پام کې ده، چې سږ د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ، څمکه‌والو ته له زر تر دوه زره جریبه د مېوو نوي بڼونه جوړ شي». هغه ویلي چې د نویو جوړېدونکو بڼونو د اړتیا وړ نیالگي به له همدغو قوریو او نرسریو څخه پېرل کېږي او پر بڼوالو به وېشل کېږي.

## سوله دې نه برمته کېږي؛

### افغان سیاسیون: د سولې لپاره ملي طرحه جوړوو، ارگ د انحصار په لټه کې دی



۳


د سولې ضد دریځ پر وړاندې د جدي ولسي گامونو اړتیا — ۲ مخ

په چین کې د نوي کال د شپې هنري ننداره — ۲ مخ

د ملي یووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتېژي — ۳ مخ


### طالبان: افغان حکومت د روان بحران سوله ییز حل ته نه دی تیار

وسله والو طالبانو ویلي، چې افغان حکومت د روان بحران سوله ییز حل ته تیاری نه لري.

طالبانو په خپله یوه تبصره کې چې د دې ډلې پر ویب پاڼه خپره شوې، د ولسمشر غني مرکو او د هغه د ټاکنیز ټیم د لومړي مرستیال امرالله صالح د وروستیو ورځې څرگندونو ته په اشارې ویلي، چې دا ډول څرگندونې د سولې پروسې ډاگیز مخالفت دی.

طالبانو ویلي، د امریکایانو له وتلو سره به د هغوی افغان همکاران، چې دوی ورته د جاسوسانو نوم کارولی، هم له افغانستانه وځي او د وضعیت خرابولو فرصت به په لاس ور نه شي. طالبانو په دې اونیزه تبصره کې ویلي، چې دوی هېچا ته د جگړې د غځولو اجازه نه ورکوي.

د طالبانو دغه تبصره داسې مهال ده، چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد تازه کابل ته راغلی او ټاکل شوې چې له افغان حکومت او سیاستوالو سره د سولې پر روانو خبرو وغږېږي.

په ورته وخت کې افغان دولت د طالبانو دا څرگندونې رد کړې، چې ولسمشر غني او د ټاکنیزې ډلې لومړی مرستیال یې د سولې مخالفین دي.

افغان چارواکو زیاته کړې چې دوی د سولې مخالفت نه کوي، بلکې په هېواد کې د باعزتې سولې غوښتونکي دي چې په پیل کې یې باید سرتاسري اوربند وشي.

### د بیاشمېرنې د محلونو اصلاح شوی نوملړ مو تر اوسه نه دی تر لاسه کړی



۵ مخ

### وزارت صحت عامه: برای جلوگیری از بیماری کرونا تدابیر پیشگیرانه را اتخاذ نموده ایم



وزارت صحت عامه افغانستان می گوید که تاکنون بیماری «کرونا» در افغانستان شیوع نکرده؛ اما بخاطر جلوگیری از شیوع آن، تدابیر پیشگیرانه را اتخاذ نموده است.

این در حالیست که ویروس جدید در منطقه ای از چین شیوع پیدا کرده که تا کنون جان ۱۷ نفر را گرفته است. مقامات چین از مردم این کشور خواسته اند که به شهر ووهان، محل انتشار این ویروس، سفر نکنند و به ساکنان شهر هم توصیه کرده‌اند که در شهر بمانند.

تاکنون ابتلای بیش از ۵۰۰ نفر به این ویروس تائید شده است. علاوۀ بر چین، موارد دیگری از ابتلا به این بیماری در تایلند، کوریای جنوبی، جاپان، تایوان، استرالیا و امریکا هم مشاهده شده است.

حبیب اروال رئیس بخش کنترل امراض در وزارت صحت عامه افغانستان گفته است: «با آن که شیوع این بیماری آنقدر برای ما نگران کننده نیست، ولی باید تدابیر پیشگیرانه داشت و به همین دلیل، ما برخی تدابیر را اتخاذ کردیم».

به گفتۀ وی، دیروز جلسه ای به سطح رهبری وزارت و نمایندۀ سازمان صحی جهان، در این وزارت راه اندازی شده بود و در آن تصمیم اتخاذ گردید که باید یک تیم تخنیکی در میادین هوایی کشور موظف باشند؛ تا مسافرینی که از خارج به افغانستان وارد می شوند، معاینه شوند.

همچنان موصوف گفته است که پیام های صحی در جهت جلوگیری از شیوع این بیماری را تهیه می کنند؛ تا از طریق مطبوعات به مردم در مورد این بیماری آگاهی دهند.


Aksos Book Stote

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

Aksos Book Store

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

0798-98-9696, 0202504652

## دریـځ

### د سولې ضد دریځ پر وړاندې د جدي ولسي گامونو اړتیا

پرون په کابل کې ځینې سیاستوال را غونډ شوي وو او د افغانستان د سولې په تړاو یې د یوې طرحې د وړاندې کولو ژمنه وکړه. دې غونډې ته پخوانی ولسمشر حامد کرزی او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله هم ورغلي وو. په غونډه کې ډېری گډونوالو ویل چې که حکومت د سولې مخالفت کوي، نو دوی به خپله طرحه ولري او دا طرحه به عملي کوي. دوی ټولو پر یوه خوله پر سوله ټینگار کاوه او له دریځه یې ښکاره‌دله چې دوی د حکومت د سولې له تگلارو خوښ نه دي او غواړي چې له خپله اړخه یو حرکت پیل کړي.

دغه سیاستوال چې ډېری یې څه ناڅه ولسي ملاتړ هم لري، له هغه وروسته د سولې په برخه کې له خپله اړخه د گام اخیستلو ژمنه کوي، چې حکومت د سولې پروسې پر مخالفت تورنیږي. که څه هم حکومت د سولې د مخالفت خبره ردوي، خو په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح په ښکاره د سولې مخالفت کوي او وایي چې که امریکا له طالبانو سره توافق لاسلیک هم کړي، له طالبانو سره جگړه به دوام کوي. طالبان هم حکومت پړ گڼي چې د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي او آن د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم څو څو ځله حکومت پر ناغېړۍ تورن کړی او ویلي یې دي چې له پرله پسې غوښتنو سره سره د بین الافغاني خبرو لپاره د ولسمشر غني له خوا پلاوی نه ټاکل کېږي.

په افغانستان کې د حکومت له اړخه باید په هېڅ ډول د سولې مخالفت نه وي، ځکه سوله د ولس اساسي غوښتنه ده او څوک یې چې مخالفت کوي، د افغان ولس اصلي دښمن دی. حکومت او بل هېڅوک باید سولې د پروسې مخالفت ونه کړي. له افغانستان څخه باید یوازې یو غږ وي او هغه د سولې د غوښتنې غږ. دا غږ باید دومره پیاوړی وي چې امریکا، طالبان او نور اړخونه تر فشار لاندې راولي او اړ یې کړي چې ژر سوله وکړي. که څه هم ټول ولس سوله غواړي، خو له بده مرغه له افغانستان څخه دا غږ نشته او یا هم ډېر کمزوری دی. تر دې بده خو یې لا دا چې له افغانستان څخه او آن د حکومت له منځ څخه د سولې ضد غږونه پورته کېږي. که څه هم دا غږونه لکه زهر په شاتو کې گډېږي، خو خلک یې درک کوي چې دا زهر دي او په شاتو کې گډ شوي دي. ځیني خو لکه امرالله صالح دا زهر په شاتو کې هم نه گډوي او مخامخ یې غواړي پر خلکو وخوري.
له حکومت څخه د سولې د مخالفت غږ واضح دی، اوس پکار ده چې د دې غږ پر ضد پراخ ولسي غږ پورته شي. د کابل په پرونۍ غونډه کې د را ټولو شوو سیاستوالو د تېر په هېرولو سره دا یو ښه گام دی او باید لوی، ولسي او پیاوړی شي. په حکومت کې د سولې مخالفین، محمد اشرف غني، امرالله صالح او د سولې نور مخالفین باید درک کړي چې ولس سوله غواړي او د دوی د سولې ضد دریځ پر وړاندې غلی نه پاتې کېږي. سوله د ولس غوښتنه ده او هر څوک چې د دې غوښتنې پر ضد ودریږي، د ولس دښمنان دي او ولس به یې پر وړاندې په جدیت ودریږي.

# په چین کې د نوي کال د شپې هنري ننداره



نقیب الله مل



نوی کال، یانې د طبیعت تازه کېدنه، غوړېدنه او نوې ساه اخیستنه، له تېر کال سره خدای پاماني او د نوي کال د هرکلي په مانا ده. د نمانځنې دودونه یې په بېلابېلو سیمو او هیوادونو کې د وگړو تر منځ د یو منل شوي کلتور او دود په توگه شتون لري.

له ډېرو پخوا زمانو راهیسې خلکو د دې لپاره چې د خپلو چارو په تېره بیا د کرکیلي او کښتونو لپاره ښه تنظیم او ترتیب ولري، په یو اغېزمن چوکاټ او مهالوېش کې یې راونغاړي او تر سره یې کړي، د جنتري(کالیزه) اړتیا د پوره کولو او موندلو په لټه کې وو، له نېکمرغه دا اړتیا په چین کې خلکو ډېره مخکې درک او پوره کړې وه. ثرنگه چې معلومه ده چین یو لرغونی زراعتي هیواد دی او په نړۍ کې په کرنیزو چارو کې مخکښ او د اوږدې مخینې درلودونکی پاتې شوی دی، تر ډېره یې ځانگړې کرنیزه کالیزه هم د خپلې بزگرۍ چارو پر بنسټ ټاکلې او جوړه کړې ده.

چینایانو په خپل کرنیز کالیز کې له اوږدو مودو او زمانو راهیسې ځینې ځانگړې دودیزې ورځې ټاکلې او معلومې کړې دي، له دې ډلې یو د چین نوی کال دی. زه دلته یوازې د نوي کال او د نوي کال د شپې هنري ننداري په اړه خبرې کوم.

ثرنگه چې نوی کال او نمانځنه یې په چینایي ټولنه کې له ستر کلتوري ارزښت څخه برخمنه ده او په مناسبت یې بېلابېل فعالیتونه جوړېږي، په همدې سلسله کې نن سبا د بیجېنگ ښار په ښه کې له همدې امله بدلون تر ډېره د هر چا پاملرنه جلبوي. اه رښتیا، نه یوازې د بیجېنگ ښه، بلکې په چین کې د ټولو ښارونو، کلیو او بانډو په څېرو کې له ورایه ثرگند بدلون لیدل کېږي. سړکونه، لارې، کوڅې، ودانۍ او د کورونو په دروازو قندیلونه، څراغونه او ملي بیرغونه او د نوي کال په اړه د خلکو د علاقې اندازې دا ښکارندویي او ثرگندونه کوي. د چین سړنی دودیز کال د موږک له کال سره برابر دی او موږک په چینې ټولنه کې د ځیرکۍ، هوښیارۍ، چالاکۍ، تېزبینۍ په مانا او سمبول گڼل کېږي.

د چینایانو نوی دودیز کال، نوروز یا په بله اصطلاح پسرلنی اختر، په چین کې تر ټولو مهم، لوی او د ستر کلتوري ارزښت درلودونکی دی. دا په نړۍ کې یو له فوق العاده او سترو اخترونو حسابېږي.

هغه چې وایي، ژوندي ملتونه تل د ژوندیو دودونو او کلتورونو درلودونکي وي، درنښت یې کوي، پالنه یې کوي او په خوند، شوق او ذوق یې نمانځي. له دې ډلې یو چیني ملت دی، له دودیزو ورځو او جشنونو یې یو د نوي کال ورځ او اختر دی، د نمانځنې په اړه یې له وړاندې چمتووالی نیسي، رارسېدو ته یې شېبې شماري او د نوي کال د نمانځنې د فعالیتونو په لړ کې د نوي کال د شپې هنري ننداره یې بیا تر ټولو ستره او د یادونې وړ ده.

د چین د دودیزې جنترۍ له مخې، د هر کال د وروستۍ ورځې په شپه د دې هنري نندارې تر سره کېدنه او جوړېدنه اساسي برخه ده. د نوي کال د شپې هنري ننداري نوښت په ۱۹۷۹ ز کال کې د چین د مرکزي راډیو- ټلوېزیون له خوا وشو او ډېر ژر دا هنري ننداره د نوي کال د شپې نه جلاکېدونکې برخه وگرځېدله او په دې ترتیب له ۱۹۸۳ ز کال څخه دا ننداره په پرله پسې توگه له ۳۷ کلونو راهیسې دوام لري او د هر نوي کال په شپه تر سره کیږي.

په دې ننداره کې د لوبغاړو شمېر سلگونو ته رسیږي، د یوې سترې پیاوړې هنري ډلې له خوا یې هر حرکت په ځیر تر سره کیږي، نږدې شپږ میاشتې وړاندې یې د لوبغاړو روزنیزې او تمریناتي چارې پیل کیږي او د بېلابېلو ازمایښتي پړاوونو په ترڅ کې په دقت سره بشپړېږي او تر وروستي پړاوه رسیږي.

د نوي کال د شپې سږنۍ هنري ننداره یوه بشپړه او جالبه ننداره وه، هغسې چې پر سټېج، صحنې او لوبغاړو باندې یې ډېر کار شوی و، ساز او موسیقي، سندرې او نڅاوې، اوپراوې، ټوکې ټکالې، د ټولنې تودې مسئلې، د وگړو مهمې اساسي اړتیاوې، د وگړو له ژوند سره تړلې کیسې، داستانونه، د ټولنې حقیقتونه، ښېگڼې، ښکلاگانې، د یوې سوکاله شتمنې ټولنې جوړولو د هدف پوره کول او داسې نورو مهمو برخو ته پکې ځای ورکړل شوی و. همدارنگه ځینې هغه ناوړه، ناسمې ځورووونکې پدیدې، بدگڼې، فساد، کاغذپراني، فریب، جعل او داسې نور یې په لوړ مهارت سره وغندل او ورټل.

د سږنۍ هنري ننداري بله مهمه ځانگړتیا دا وه، هغسې چې د هر اړخ او نظر له پلوه غنې او بشپړه وه، ویې کولای شوی چې د چیني ملت سعادتمندي، نېکمرغي او په اوسني عصر کې د ورخلاصون په مټ د لا پرمختیاوو په لوري د سترو هڅو تصویر وړاندې کړي.

دا هنري ننداره لکه ثومره چې د خپلو پراخو ننداړو او لوبغاړو له پلوه بې مثاله او بې سیاله ده، همداسې د مینه‌والو او لیدونکو د شمېر له پلوه هم نوموتې ده. له همدې امله د نړیوالو ریکارډونو په کتاب «گېنز» کې ثبت ده. اصلي ستره ننداره یې په بیجېنگ کې وه او نورې کوچنۍ ننداري یې په یو وخت کې په جنگ جو، گوانگ دونگ، هانکانگ او مکاو کې تر سره شولې.

سږنۍ هنري ننداره د چین میډیا گروپ له خوا جوړه او تر سره شوله، پراخو ټولشموله غني محتوایاتو ته پکې ځای ورکړل شوی و او د دې تر ثنگ، مسلکي کاري ډله یې د نویو پیاوړو تخنیکونو او ټکنالوژۍ ونډه هم پکې تر ډېره مهمه او د پام وړ وه. د لومړي ځل لپاره تصویر جوړولو او وړاندې کولو کې د ۵G+۸K ځیرکو کامرو کارونه تر سره شوه. د ننه په چین او بیرون کې د ډېرو ټلوېزیوني شبکو پر پردو باندې وښودل شوله. په ۱۷۰ هیوادونو کې نږدې ۵۰۰ رسنیو پوښښ کړې وه.

دا هنري ننداره ټوله ثلور ساعته وه، د چین په وخت د ماسختن په اتو بجو د چینا میډیا گروپ د چین مرکزي ټلوېزیون په تالار کې پیل او د شپې په دوولسو بجو او د نېټې په بدلون او د نوي کال د زنگ په کړنگېدو، تر یوې بجې یې دوام وکړ. په پام کې وه چې د دې هنري ننداري ځینې مهمې، جالبې په زړه پورې صحنې او برخې راټولې د دوستو هیوادونو د اړوندو ټلوېزیوني چینلونو او د لویو سینماگانو پر پردو باندې وښودل شي.

## سرچینه: امریکا له طالبانو په مکررو غوښتنو د سولې مذاکرات ستونزمن کړي



په داسې حال کې چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو مذاکرات سرنوشت ټاکوونکي پړاو ته داخل شوي، تازه له جدي او مهمو ستونزو سره مخ دي.

د سولې مذاکراتو له جریان څخه یوې باخبره سرچینې مسیر ورځپاڼې ته ویلي، چې د طالبانو له لوري د جنگ او تاوتریخوالي کچې کمولو په اړه تر توافق وروسته، امریکایي پلاوي له طالبانو تازه غوښتنې کړې دي.

سرچینه وایي چې امریکایي اړخ پر عمومي او دایمي اوربند ټینگار لري او له دریځ څخه یې داسې مالومېږي چې که هوکړه لاسلیک هم شي، که سیاسي جوړجاړی ونه شي، دوی به ځواکونه ونه باسي.

سرچینې زیاته کړې: «د تاوتریخوالي کچې کمولو په اړه د طالبانو تر هوکړې وروسته، اوس امریکا تازه نورې غوښتنې مطرح کړې دي، چې طالبان یې نه مني. امریکایي لوری پر دایمي او عمومي اوربند ټینگار لري، او وایي، که له طالبانو سره د وتلو قرارداد هم لاسلیک کړي، نو سیاسي جوړجاړي ته د رسېدو تر وخت مکلف نه دي چې ځواکونه وباسي».

په ورته وخت کې پخواني طالب چارواکي وایي، چې د امریکایي پلاوي له لوري د نویو شرطونو وړاندې کولو خلک او طالبان پر مذاکراتو بې باوره کړي دي. دوی وایي چې امریکا په افغانستان کې د سولې د ټینگښت نیت نه لري او دوی غواړي چې په افغانستان کې پاتې شي. پخوانی طالب چارواکی سیداکبر اغا وایي: «امریکایان خلک غولوي او دوی نه غواړي چې افغان جگړه له سوله ییزو لارو پای ته ورسېږي».

د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې مذاکراتو له بیاځلي پیل سره هیلې وې، چې د دواړو خواو تر منځ به هوکړه لیک ډېر ژر لاسلیک او بین الافغاني مذاکرات به پیل شي، خو اوس ظاهراً داسې مالومېږي چې د توافقنامې د لاسلیک کېدو مسئله له نامعلوم برخلیک سره مخ شوې ده.

په ورته مهال وسله والو طالبانو پر خپله وېب پاڼه هم لیکلي، چې امریکایي لوری د سولې په خبرو کې د نویو غوښتنو په مطرح کولو سره وخت ضایع کوي.

طالبانو ویلي، سره له دې چې دوی د امریکا په غوښتنه د تاوتریخوالي کمېدل ومنل، خو په خبره یې، امریکا اوس د افغان حکومت په ټینگار تازه غوښتنې مطرح کوي.

# د ملي یووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتېژي (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

لیکنه: عمران زکریا

دویمه برخه:

**د افغان طالبانو او روسیې اړیکې**

افغان طالبانو هغه مهال چې په ۱۹۹۵ ز کال کې یې د هېواد ځینې ولایتونه تر کنټرول لاندې وو، له روسیې سره د اړیکو د تاسیس غوښتنه وکړه. د ۱۹۹۵ز کال په اګست کې د روسیې الوتکه د طالبانو د جیټ الوتکې له لوري دې ته اړ شوه، چې د کندهار په نړیوال هوایي ډګر کې ناسته وکړي. وروسته که څه هم افغان طالبانو د روسانو الوتکه پرېښوده، خو دغه مهال د دواړو لوریو تر منځ په ډیپلوماټیک ډګر کې مخامخې ناستې وشوې. د دغو خبرو اترو پر مهال، طالبانو وکولای شوی چې د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال په کندهار ولایت کې ځای پر ځای شوي ماینونه خنثی کړي. همدارنګه طالبانو هڅه وکړه چې روسیه دې ته مجبوره کړي، چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي څوکۍ د طالبانو په استازیتوب ومني، خو روسیې دا کار ونه کړ او د پخوا په څېر یې د مجاهدینو د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړ او په دې توګه طالبانو ونشوای کړای چې د روسیې له لوري سیاسي ملاتړ تر لاسه کړي.

روسیې پر افغانستان د امریکا تر پوځي برید وروسته، د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۷ز کال کې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړې، چې له افغانستان څخه منځنۍ اسیا ته د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي پر موضوع بحث وکړي. خو اوسمهال دغه تماسونه توپیر لري، د روسیې چارواکي ادعا کوي چې په افغانستان کې د امریکا پالیسي له ناکامۍ سره مخ ده، نو ځکه روسیه غواړي چې په افغانستان کې «مداخله» وکړي.

د ۲۰۱٦ز کال په ډسمبر کې مسکو له طالبانو سره له خپلو پټو اړیکو پرده پورته کړه او د روسیې د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ، چې له طالبانو سره استخباراتي معلومات شریکوي، څو په افغانستان کې د داعش پر وړاندې جګړه وکړي. افغان حکومتي چارواکو په غبرګون کې پر روسیې تور پورې کړ، چې له طالبانو سره د وسلو مرسته کوي، خو روسي چارواکو دا خبر رد کړ. همدارنګه، طالبانو هم له روسیې څخه د پوځي ملاتړ موضوع رد کړه. د افغانستان پر وړاندې د روسیې نوی دریځ داسې په ډاګه کوي، چې د اسیا په زړه کې یوه بله نوې ستره لوبه پیلېدونکې ده.

د دې تر څنګ، د ۲۰۱۷ز کال په مارچ میاشت کې په افغانستان کې امریکایي پوځي چارواکو مسکو پر دې تورن کړ، چې د روسیې له لوري د افغان سولې د ډیپلوماسۍ موخه په افغانستان کې د ناټو ماموریت کمزوري کول دي او پر مسکو یې تور پورې کړ، چې طالبانو ته وسلې ورکوي؛ خو روسي چارواکو دا تور رد کړ او پر دې باندې یې اعتراف وکړ چې له طالبانو سره اړیکې لري.

د امریکایي پوځي چارواکو د ادعا پر ضد روسي چارواکي وايي، چې امریکا له پوځي عملیاتو سره بیا هم د ټرمپ د ولسمشرۍ پر مهال دې ته ملا وتړله، څو له طالبانو سره روغې جوړې ته کښني، نو روسیه هم هڅه کوي چې له طالبانو سره اړیکې پراخې کړي او د افغانستان شخړې ته د پای ټکی کېږدي. د سوریې، شمالي کوریا او د افغانستان په مسایلو کې د روسیې ښکېلتیا له امریکا سره د تعادل د موازنې برابروالی دی. له طالبانو سره د روسیې تماسونه کولای شي ځانګړې پایلې ولري. په افغانستان کې له طالبانو سره د روسیې اړیکې او د سولې په نامه له طالبانو سره مذاکرات په دې مانا دي، چې دا به په نړیواله کچه د شخړو په حل کولو او د روسیې په ښکېلتیا کې د روسیې له وضعیت سره ځانګړې مرسته وکړي، څو په نړیواله کچه مقام تر لاسه کړي.

په واشنګټن کې د وډرو وېلسن نړیوال څېړنیز مرکز کې مایکل کوګل من د ۲۰۱۷ز کال په جنورۍ کې وویل، چې روسیه څو لسیزې وړاندې له افغانستان څخه وتلې وه، خو اوس یو ځل بیا د افغانستان مسایلو ته را دننه شوې ده. د کوګل من په نظر، روسیې پر ځان ستر خطر منلی چې په افغانستان کې د طالبانو لوري ته راګرځېدلې ده. کوګل من وايي: «روسیه د یو نادولتي لوبغاړي ملاتړ کوي، چې د داعش دښمن دی. همدارنګه روسیه له طالبانو څخه په افغانستان کې داسې ګټه اخلي، چې پر واشنګټن فشار راوړي. خو کوګل من دا هم وايي چې له طالبانو څخه د روسیې د ملاتړ تر شا داسې راز دی، چې سپړل یې ستونزمن کار دی».

**مسکو څه غواړي؟**

روسیه په داسې حال کې افغان طالبان په مسکو کې د سولې خبرو ته رابولي، چې له ۲۰۰۳ز کال راهیسې د طالبانو ډله د یوې تروریستې ډلې په توګه پېژني. د ۲۰۱٦ز کال په سپټمبر کې جنرال اولېګ سیرومولوتوف، د روسیې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وویل، طالبان په روسیه کې د یوې تروریستي ډلې په توګه پېژندل کېږي، چې روسیه د ملګرو ملتونو له نظر سره همغږې ده. همدارنګه د روسیې دولتي رسنۍ تاس (TASS) هم په روسیه کې طالبان د یوې تروریستې او ناقانونه ډلې په توګه اعلان کړې دي.

دا چې ولې روسیه اوسمهال له همدې «تروریستې ډلې» سره خپلې اړیکې پراخې کړې، دا ځینې عوامل لري:

لومړی- روسیې له طالبانو سره د بهرنیو اړیکو له لارې لوبډیځ ته ور په زړه کړه، چې که لوبډیځ د افغانستان په اړه په سیمه ییزه او یا نړیواله کچه پلانونه جوړوي او د روسیې ګټې له پامه غورځوي، نو روسیه هم کولای شي په خپل وار له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي. په ۲۰۱٦ز کال کې په افغانستان کې د سولې په موخه د همغږۍ څلور اړخیزه ګروپ بڼه غوره کړه (Quadripartite Coordination Group) چې امریکا، چین، پاکستان او افغانستان یې غړي هېوادونه وو. غړو هېوادونو له طالبانو سره د مذاکراتو په موخه ناستې جوړې کړې، خو کومه بریالۍ لاسته راوړنه یې نه درلوده.

دویم- د طالبانو د ملاتړ له لارې د روسیې مشرتابه غواړي، چې په سیمه کې د امریکا متحده ایالتونو او ناټو د نفوذ پر وړاندې خنډونه پیاوړي کړي.

دریم- روسیه په افغانستان کې د داعش د نفوذ له لارې د خطر احساس کوي. له ۲۰۱۴ز کال وروسته، روسیه منځنۍ اسیا او په ځانګړي ډول روسیې ته د داعش د نفوذ پراخېدو او یا انتقال اندېښنه لري؛ دا چې طالبان د داعش پر وړاندې جنګېږي، نو له طالبانو سره مرسته د روسیې لپاره ښه وسیله جوړه شوه. د ۲۰۱۷ز کال په ډسمبر کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر څرګنده کړه، چې روسیې له داعش سره د مبارزې په موخه له طالبانو سره استخباراتي معلومات شریکول.

څلورم- د روسیې لپاره بل سرخوږی افغان تریاک دي. افغانستان د ټولې نړۍ ۹۰ سلنه نشه یي توکي برابروي، چې ډېری یې د طالبانو تر حاکمیت لاندې سیمو کې کرل کېږي. په روسیه کې د نشه یي توکو د استعمال له کبله هر کال ۷۰۰۰ کسان وژل کېږي؛ نو ځکه روسي چارواکي باور لري، چې له نشه یي توکو سره په مبارزه کې د ملي یووالي حکومت په پرتله، افغان طالبان کولای شي ښه مرسته وکړي.

په افغانستان کې د نشه یي توکو تولید د ۲۰۰۱ز کال په پرتله، په ۲۰۱۲ز کال کې ۱۹ ځله لوړ شوی دی او روسیه یې ستر مارکېټ دی. د روسیې شاوخوا شپږ سلنه وګړي پر نشه یي توکو روږدي دي او د یادو نشه یي توکو اساس تر ډېره له افغانستان څخه دی.

**دوام لري...**

# سوله دې نه برمته کېږي؛

## افغان سیاسیون: د سولې لپاره ملي طرحه جوړوو، ارګ د انحصار په لټه کې دی



د سولې له تودو هڅو سره هممهاله افغان سیاسیون وايي چې دوی به د سولې لپاره طرحه جوړوي. دغو مطرحو سیاسي څېرو د اجرایه رییس د دویم مرستیال محمد محقق په کور کې غونډه کړې وه او د سولې په اړه یې خبرې کړې دي. دوی وايي چې د افغانانو په خوښه به د سولې طرحه جوړوي او هڅه کوي چې جګړه ختمه او بین الافغاني سوله تامین شي. دوی دغه راز حکومت تورن کړ چې د سولې د انحصار هڅه کوي. د سیاسیونو په خبره، په حکومت کې ځینې خاصې کړۍ دي چې غواړي سوله انحصار کړي او یا د واک د ساتلو لپاره د سولې په لار کې خنډ جوړ کړي.

د افغانستان د سولې مسئله له څو میاشتو راهیسې په یوه ګونګ وضعیت کې ده. داسې تورونه دي چې افغان حکومت له دې پروسې سره همکاري نه کوي او په ځینو مسایلو کې ستونزې ورته جوړوي. دوی د بیجېنګ او همدا راز نورو غونډو کې د ګډونوالو لپاره ستونزې جوړې کړې او د بیجېنګ غونډه له همدې امله وځنډېده. اوس تازه افغان سیاسیون سره راټول شوي دي او وايي چې د سولې لپاره به یوه ملي، د ولس په خوښه او عملي طرحه جوړه کړي. پخواني ولسمشر حامد کرزی، اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، د سولې عالي شورا رییس کریم خلیلي او نور مطرح شخصیتونه د دې غونډې ګډونوال وو. په دې غونډه کې د ډېرو سیاسي ګوندونو استازو هم ګډون کړی و.

دوی وايي چې په حکومت کې ځینې کړۍ هڅه کوي چې د سولې روان بهیر برمته کړي او یا یې په خپلو شخصي افکارو او نظریاتو انحصار کړي. د اجرایه ریاست دویم مرستیال محمد محقق بیا حکومت کمزوری بولي او په خبره یې، په هغه موقف کې نه دی چې وکړی شي په افغانستان کې روان بحران په یوازې ځان حل کړي. هغه زیاتوي، په ارګ کې یوه ځانګړې کړۍ ده چې هر څه یې انحصار کړي دي. د ده په خبره، دلته شته کړۍ د افغانانو استازیتوب نه کوي او دلته باید جګړه د افغانانو په هڅو ختمه شي. محقق وايي: «دا کړۍ هر څه په ځان پورې اړوند بولي. هر څه باید دوی او ملګري یې وکړي. کار باید یا ولسمشر غني وکړي یا د ده ملګري».

پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي، دوی دلته د دې لپاره راټول شوي چې دوی د سولې هڅې سره منسجمې او طرحې سره یو ځای کړي. هغه زیاته کړې، په دې توګه به د سولې لپاره یو پیاوړی پلان او طرحه جوړ کړي، څو دلته خونړۍ جګړه ختمه او دایمي ثبات راولي.

د پخواني ولسمشر حامد کرزي لومړي مرستیال محمد یونس قانوني هم وویل چې د سولې نوې طرحه به په حقیقت کې د ولس او خلکو طرحه وي. د قانوني په خبره، د دې طرحې امتیاز او ستونزې به ټولې ملت ته ورګرځي او دوی هڅه کوي چې د همدې طرحې پر مټ جګړه ختمه کړي. قانوني زیاته کړې: «موږ د ملت په استازیتوب باید د جګړې د پای عملي طرحه جوړه کړو. داسې طرحه چې ګټه یې ملت ته وي او دلته اوږده خونړۍ جګړه پای ته ورسوي. د افغانستان خلک باید ځان په دې طرحه کې شریک او برخه وال وبولي».

د سولې عالي شورا رییس بیا وايي چې د تاوتریخوالي کمول د سولې له پروسې سره همکاري کوي. هغه وايي چې که د تاوتریخوالي کمول د جګړې د کمېدو سبب ګرځي، باید هرکلی یې وکړو. هغه زیاتوي چې حکومت دې د هر ګام هرکلی وکړي او جګړه دې ختمه کړي. نوموړی وايي: «تاوتریخوالی چې کمېږي د افغانستان په ګټه دی، د اوربند مسئله په بین الافغاني خبرو کې مطرح شوې ده. حکومت دې د اوربند په بهانه د سولې د خبرو لپاره خنډ نه جوړوي، هېڅوک دې د جګړې د کمېدو مخالفت نه کوي».

اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم وايي چې هېڅوک باید د جګړې د کمېدو او تاوتریخوالي د درېدو مخه ونه نیسي. هغه وايي، ځینې شخصي ګټې پالي او د سولې مخالفت کوي، په داسې حال کې چې د سولې مسئله د هر چا تر ګټو مهمه او لوړه ده. د سولې په تړاو داسې مهال دغه هڅې روانې دي، چې حکومت د سولې پروسې پر انحصار تورن دی او بلخوا طالبانو بیا ویلي چې امریکا د سولې هوکړې د لاسلیک لپاره پر دوی نوي نوي شرطونه ور زیاتوي.

# راپورونه: په ترکیه کې د سختې زلزلې له کبله د مرګ ژوبلې شمېرې نورې هم لوړې شوې دي

د راپورونو له مخې، د ترکیې په سوېل کې د ورمې شپې زلزلې له کبله د مرګ ژوبلې شمېرې نورې هم لوړې شوې دي.

چارواکو ویلي چې په دغه زلزله کې له ۲۰ ډېر کسان وژل شوي او په سلګونو نور ټپیان شوي او ډېرې ودانۍ هم نړېدلې دي. دغه شپږ اعشاریه اته ریښتره زلزلې چې د ترکیې په «الازیغ» ولایت کې شوې، په ایران، لبنان او سوریه کې هم احساس شوې ده.

د الازیغ ولایت اوسېدونکو په خبره، دغې زلزلې په سلګونه نورې ځواکمنې لړزې هم لرلې. چارواکو ویلي چې په دې زلزله کې ۱۵ تنه په الازیغ او ځینې نور هم په ملاتیه ولایت کې وژل شوي او په سلګونو نور ټپیان شوي دي.

سیمه ییزو چارواکو ویلي چې د دې زلزلې د زیانمنو کسانو د ژغورنې عملیات یې چټک کړي او ښایي د مرګ ژوبلې کچه تر دې هم لوړه شي.

د یادې سیمې د پولیسو یوه چارواکي رویټرز ته ویلي چې د جمعې په شپه د «الازیغ» ولایت «سیوریجه» ښار ډېر زیانمن شوی دی. چارواکو زیاته کړې، دغه زلزله د ترکیې پلازمېنې انقرې په ۵۵۰ کیلومترۍ کې رامنځ ته شوې ده.

د سیمې یوه اوسېدونکي معاذ الپر اوغلو رویټرز ته ویلي: «زلزله د شپې په اتو بجو او پنځه پنځوسو دقیقو کې شوې. موږ په کور کې وو. لومړنۍ لړزه ډېره اوږده وه او تر ۱۵ ثانیو یې دوام درلود. ټول له کورونو بهر شول».

په ورته وخت کې چارواکو زیاته کړې چې په سیوریجه ښار کې چې د زلزلې مرکز و، ډېر کسان وژل شوي او په سلګونو نور ټپیان شوي دي.

د دوی په خبره، لسګونه نور کسان هم تر نړېدلو دېوالونو او کنډوالو لاندې دي چې د هغوی د ژغورنې لپاره هڅې روانې دي.

د سیوریجه ښار یوه اوسېدونکي سیناسي ویلي: «زموږ کورونه ونړېدل او یا هم ویجاړ شوي. نه شو کولای چې خپل کلي ته ولاړ شو. ځینې خلک وژل شوي. الله دې موږ ته صبر راکړي. څاروي هم مړه شوي دي».

د یادونې ده چې ترکیه د ځواکمنو زلزلو تاریخي مخینه لري چې درنه مرګ ژوبله هم له ځانه سره لري. په ۱۹۹۹ ز کال کې اووه اعشاریه شپږ ریښتره زلزلې د ترکیې ازمیت ښار ولړزاوه او نږدې ۱۷ زره کسان یې ووژل.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبری اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




په اخلاقو کې دوه شیان مهم دي: یو معیار چې باید مراعات شي او دویم دا هوډ چې معیار باید مراعات شي.
دا څرګنده ده چې زرین قانون د دینونو او کلتورونو له پولو اوړي او د نړۍ په نږدې هره سیمه کې خلکو منلی دی. د اخلاقو نړیوال لاربنود ته تقریبا دا تر ټولو نږدې شی دی.
په اخلاقو کې دوه شیان مهم دي: یو معیار چې باید مراعات شي او دویم دا هوډ چې معیار باید مراعات شي. د جوزیف په نوم د اخلاقو انسټیټوټ دی، دا یوه خیریه اداره ده او په ټولنه کې د اخلاقي معیار د لوړلو لپاره کار کوي، وایي:((اخلاق حتی زموږ تر اټکله په لوړه بیه د سمو کارونو کولو ته وایي. اخلاق دوې برخې لري: یوه د ښو او بدو ترمنځ د توپیر وړتیا ده، او دویمه دا هوډ دی چې سم کار به کوو او تل به یې کوو. اخلاق عمل غواړي، دا هسې د خولې خبره او دعوه نه ده.)) (۱۲)

**ولې باید زرین قانون ومنو؟**

زه دومره ساده نه یم، پوهېږم چې هر سړی د اخلاقي ژوند لپاره ساده، اسانه او عملي لاربښوونه غواړي. ځینې خلک دروغ وایي، ټګی برګی او غلاګانې کوي. ځینې پر مفکورو بحثونه کوي او شخوند پرې وهي. له ځینو ما په لیسه کې درس ویلی دی؛ خو څوک چې په ژوند کې د اخلاقي چلن د معیار ښتینې او د زړه له اخلاصه لټه کوي، نو په زرین قانون کې یې مومي. زه په دې خاطر باور پرې کوم چې:

**۱. زرین قانون ډېرو خلکو منلی دی.**

تاسو به پوه شوي یئ چې زرین قانون څومره پراخ منل شوی دی؛ خو که دا درته بس نه وي، نو د عمومي پوهې پر اساس د زرین قانون لپاره یوه قضیه هم جوړېدای شي. تاسو څه فکر کوئ څوک داسې ویلای شي چې:((خیر دی له ماسره بد وکړه چې زه یې هم درسره وکړم.)) نه! ځکه هر څوک له ځان سره ښه چلن غواړي. ان څوک چې ناروغې اړیکې پالي او څوک چې ناسم چلن کوي، هغوی هم له نورو د بدو تمه نه لري او شعوري بد ترې نه غواړي. له نورو خلکو دا تمه نه لري چې له نورو خلکو سره ښه چلن وکړي. خلک که تر نورو له ځان سره د ښه چلن تمه کوي، نو د دې تمې توجیه ډېره سخته ده. د څه شي پر اساس به یې کوي؟ شتمني؟ ښه که داسې وي، نو یو کس به (۱۰۰۰۰۰) ډالر لري، دا کس که له څانه له ټیټ (۲۵۰۰۰) لرونکي کس نه یوازې د پیسو له امله ښه چلن غواړي، نو د (۵۰۰۰۰۰) ډالرو لرونکی کس اختیار لري چې له ده سره بد چلن وکړي!
که وړتیا د ښه چلن معیار شي، نو بیا؟ د موسیقۍ په نړۍ کې زیاتره ستوري له دې امله مشهور دي. تکړه خلک تر کمزورو د ښه چلن وړ دي؟ هو؟ ښه نو، له چا سره باید ښه چلن وشي، وایټني هاسټن که یو یو ما؟
تاسو څه وایئ چې چلن دې خپله د طبیعي وړتیا له مخې وشي، که د وړتیا د کارونې له مخې؟ او که چېرې دوه داسې کسان سره مخ شي چې یو په یوه برخه کې تکړه وي او بل په بله برخه کې، نو بیا؟ کوم یو د ښه چلن وړ دی؟ ټایګر وډز که بیل ګېټس؟
او که چېرې د چلن اساس سیاسي تړاو او شخصي عقیده شي، نو بیا به د نورو سیاسي ډلو غړي ذاتا پست وي او څوک چې ستاسو پر عقیده نه وي، نو هغوی به د سپک او بد چلن لیاقت لري؛ خو که تاسو وروسته پوه شئ چې هغوی په یوه موضوع کې پر حقه او تاسو ناحقه وئ، نو بیا؟ کیسه به اپوټه وي.
تاسو وګورئ چې موضوع چېرته ځي. تاسو که د چلن لپاره هر دلیل راوړئ. که شمتني وي، وړتیا وي، مفکوره وي، ملیت وي، توکم وي او که بل هر څه وي، منطقي ملاتړ به نه لري. تاسو به په ماشومتوب کې یوه لوبه کړې وي. په دې لوبه کې یو کس د غره څوکې ته پورته کېږي او هڅه کوي چې هلته پاتې شي؛ خو نور هڅه کوي چې لاندې یې ترې را وغورځوي. د ژغورنې یوازینۍ لاره یې پهلواني ده او ان که تاسو یې وهم وګټئ، په دې پروسه کې به مو سخت ډېر وهل خوړلي وي.
په انساني اړیکو کې یو لومړنی اصل له نورو خلکو سره مشترک ټکي درلودل دي. تاسو که نوې ملګري پیل کوئ، که له کوم پېرودونکي سره ګورئ، که درس ورکوئ، که له ماشومانو یا د ژوند ملګري/ملګرې سره دلیل وایئ، ښه لاره یې دا ده چې ورته تجربې سره پرتله شي. ورته عقاید سره ښکاره شي او د بریالیو اړیکو لپاره لاره جوړه او خلاصه شي. زرین قانون له هر چا سره د مشترکاتو رامنځته کولو لپاره کارولای شئ.

**۲. پر زرین قانون پوهېدل اسانه دي!**

نورمان کزنس ویلي:(( د کلک او نرم کلیمې زیاتره وخت د طب محصلان د مضامینو (کورسونو) د متضاد فطرت د تشریح لپاره کاروي. مثلاً د بایوکمسټرۍ، فزیک، فارماکولوژۍ او اناټومۍ مضامین په سختو کې راځي او طبي اخلاق، فلسفه، تاریخ او د ناروغانو د روغتیایي اړیکو مضامین نرم بولي؛ خو تر فراغت څو کاله وروسته بیا کیسه برعکس وي. کوم مضامین چې سخت بلل کېدل، هغه نرمېږي او کوم چې نرم وو، هغه سختېږي. د طب اړوند ټوله پوهه پرلپسې بدلېږي؛ خو نرم مضامین، خصوصا هغه چې چارې یې د لمس وړ نه وي، هغه دوامداره ارزښتونه کېږي.)) (۱۳)

**دوام لري...**

# مورا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



د افغان مېرمنو د لوړو زده کړو خصوصي موسسې (مورا) خپلې چارې له لوړو زده کړو وزارت سره تر ثبت او راجسټر وروسته، په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د څلورو پوهنځیو (طب، اقتصاد، کمپیوټر ساینس او ښوونې او روزنې) په درلودو سره پیل کړې دي. د مورا د لوړو زده کړو موسسې د علمي چارو مرستیاله پوهنمل ملالۍ سلیمي وایي، چې له یادو څلورو پوهنځیو څخه دوه یې اوس فعال دي او عملاً محصلینې پکې خپلې لوړې زده کړې کوي، چې عبارت دي له (طب او اقتصاد) پوهنځیو څخه. اغلې سلیمي وایي چې طب پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (کلینیک او پارا کلینیک( او اقتصاد پوهنځی یې هم د دوو ډیپارټمنټونو (مالي اقتصاد او د منجمنټ) درلودونکی دی. دا چې ولې د دې موسسې دوه نور پوهنځي (ښوونه او روزنه او دغه راز کمپیوټر ساینس غیر فعال دي، اغلې سلیمي یې په اړه څه ونه ویل.
دا چې د مورا د لوړو زده کړو موسسې اصلي موخه د هغه ښځینه وو لپاره د لوړو زده کړو د زمینې برابرول دي، چې کورنۍ یې په یوه مکس ټولګي (هغه چې نارینه او ښځینه محصلین پکې یو ځای درس وایي) اجازه نه ورکوي، نو ټول محصلین یې ښځینه دي. اغلې سلیمي وایي چې په ټوله کې مورا یو ایجوکېشنل سنټر یا تعلیمي او تحصیلي مرکز دی، نو د لوړو زده کړو د موسسې تر څنګ دلته وړکتون، ښوونځی او یو انسټېټیوت چې د قابلګۍ په برخه کې مېرمنې روزي، فعال دي. مانا دا چې په ټوله کې له ښوونځي نیولې تر پوهنتون پورې یوازې ښځینه کولای شي دلته زده کړې وکړي. د دې موسسې د علمي چارو مرستیاله وایي، چې د لوړو زده کړو په موسسه کې د ۴۵۰ په شاوخوا کې محصلینې لري، خو په ټوله کې دلته لږ تر لږه ۱۵۰۰ ښځینه پر تعلیم، نیمه لوړو زده کړو او لوړو زده کړو باندې بوختې دي.
له مورا لوړو زده کړو موسسې څخه تر اوسه پورې کومه دوره محصلین نه دي فارغ شوي، خو له اقتصاد پوهنځي څخه به یې موده وروسته لومړۍ دوره محصلین فارغ شي.
په مورا د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۵۶ استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي چې ۳۶ یې دایمي او پاتې یې قراردادي استادان دي. اغلې سلیمي وایي، هڅه یې کړې ده چې د ښځینه استادانو شمېر یې د نارینه وو په پرتله ډېر وي، خو دا چې دوی د هغو استادانو لپاره ډېره اړتیا لري چې علمي کچه یې لوړه وي او د تدریس په برخه کې پراخه تجربه ولري، نو تر هغه چې په دې کچه ښځینه استادانې پیدا کوي، د اړتیا له مخې یې نارینه استادان هم پر دنده ګومارلي دي. پوهنمل ملالۍ سلیمي وایي، چې اوس یې هم یو زیات شمېر ښځینه استادانې پر دنده ګومارلې دي، خو هڅه کوي چې لا ډېرې ښځینه استادانې وګوماري.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په ټوله کې په کور د ننه او بهر کې له پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، خو د اغلې پوهنمل ملالۍ سلیمي په خبره، له دوو پوهنتونونو سره په کور د ننه او دغه راز له دوو پوهنتونونو سره په بهر کې چې یو یې انګلیسي او بل یې هندي پوهنتون دی، د علمي اړیکو هوکړې لري چې له مخې به یې د هغوی له تجربو کار اخلي او په ګډه به کار کوي.
مورا د لوړو زده کړو موسسه د ۸۵ زرو ټوکو په ظرفیت کتابتون لري، خو دا چې اوسمهال پکې څومره کتابونه موجود دي، اغلې سلیمي یې په اړه څه ونه ویل، خو وایي چې د محصلینو او استادانو د اړتیا وړ علمي او تخصوصي کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین او استادان یې کولای شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي. د فزیکي کتابتون تر څنګ، مورا د لوړو زده کړو موسسه الکترونیکي کتابتون هم لري، چې د اوو سوو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه پکې موجود دي او د محصلینو په واک کې یې ورکړي دي.
د لوړو زده کړو دغه موسسه د اتو سوو کسانو په ظرفیت د ښځینه محصلینو لپاره لیلیه، د محصلینو د بچیانو لپاره وړکتون، ښوونځی، د ورزش یا سپورټ لپاره جېم، د کنفرانسونو تالار، محصلینو ته د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول او نور ټول هغه امکانات چې یو پوهنتون یې باید ولري، په پام کې نیولي دي.
په ټوله کې مورا تعلیمي او تحصیلي بنسټ د زده کوونکو د ملاتړ لپاره یو مرکز لري، چې محصلین کولای شي خپلې ستونزې هغه که د وړکتون په برخه کې وي، د ښوونځي اړوند وي، د استادانو اړوند وي او یا په بله کومه برخه کې وي، له دې مرکز سره شریکوي او مرکز یې په اړه لاس پکار کېږي. دغه راز که محصلین له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان وي، کولای شي خپله ستونزه له دې مرکز سره شریکه کړي او تخفیف ورکړل شي. د دې تر څنګ، دغه راز د استادانو د کورنۍ د غړو لپاره، د دیني علماوو د کورنۍ د غړو لپاره او د شهیدانو او معلولینو د ورثه وو لپاره ځانګړی تخفیف ورکوي، څو خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي.
اغلې سلیمي وایي، که خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې هغه معیارونه چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا ورته ټاکل شوي دي، عملي کړي او ورځې تر بلې د خپل کیفیت د لوړو لو لپاره کار وکړي، نو د خلکو له ذهنه به دا خبره ووځي چې ګواکې دولتي پوهنتونونه تر خصوصي هغو ښه دي، په داسې حال کې چې ډېر خصوصي پوهنتونونه په خورا لوړ کیفیت او غوره امکاناتو باندې خپلو محصلینو ته تدریس کوي، خو ځینې خصوصي پوهنتونونه شته چې خیالي محصلین لري او یا هغسې چې لازمه ده چې محصلینو ته یې د زده کړو او نور اړوند امکانات نه دي برابر کړي، هغه ده چې خلکو ته یې یو ناسم ذهنیت هم پیدا کړی دی. په داسې حال کې چې نن سبا د نړۍ د غوره پوهنتونونو په رېنکېنګ کې ډېری خصوصي پوهنتونونه دي.
د مورا د تعلیمي او تحصیلي مرکز اداره غواړي چې خپله د موسسې په چوکاټ کې یو روغتون جوړ کړي، څو یې د طب پوهنځي محصلین وکولای شي، د نظري زده کړو تر څنګ، خپله په داخل د پوهنتون کې عملي زده کړې هم وکړي. که څه هم چې دغه موسسه اوس هم د طب پوهنځي محصلین د عملي زده کړو لپاره افغان روغتون ته لېږي، خو هغه وخت به بیا دوی په خپل روغتون کې عملي زده کړې وکړي چې د بنسټ ډېره یې اېښودل شوې ده او ژر به فعال شي. د دې تر څنګ، دغه بنسټ غواړي چې د کابل په ګډون، په ولایتونو کې هم څانګې پرانیزي او خپل خدامات پراخ کړي.
اغلې پوهنمل سلیمي وایي، چې دوی به په ولایتونو کې هم د هغو ښځینه وو لپاره د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، چې لا هم د ځینو ستونزو له کبله زده کړو ته لاسرسی نه لري.
د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د کیفیت د تضمین پروګرام پیل کړی، چې په دې سره به فعال او پر شرایطو برابر خصوصي پوهنتونونه له غیر فعالو هغو بېلیږي چې دغه څه د خصوصي پوهنتونونو په ارزښت لوړولو کې خورا ګټور تمامېږي. د دې تر څنګ، له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو لاسنیوی وکړي او استادانو ته یې په کور د ننه او بهر کې د وړتیاوو لوړولو په پروګرامونو او ورکشاپونو کې د ګډون ونډه ورکړي او تر څنګ یې له دولتي پوهنتونونوسره په متوازن ډول د پرمختګ زمینه ورته برابر کړي.

اقتصاد

# د جنايي پېښو زياتېدل او د کورنيو چارو وزارت نوی طرزالعمل

**ليکنه: د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز**

په دې وروستيو کې يو ځل بيا د پلازمېنې کابل په ګډون، د هېواد په ډېرو سيمو کې د جنايي پېښو زياتوالی هغه ستونزه ده چې د خلکو عادي ژوند يې له خطر سره مخ کړی دی. په ځينو سيمو کې دا ستونزه د هېوادوالو د مالونو لوټولو، سوداګريزو بوختياوو ودرېدو او آن د ښاريانو د ژوند په بيه تماميږي. په دې تحليل کې مو د جنايي پېښو پر لاملونو، د اړوندو ادارو او ټولنو پر مسووليتونو او د کورنيو چارو وزارت د راتلونکو پلانونو او پر هغو حللارو شننه کړې چې کولی شي د يادو ناوړه پېښو ګراف په اغېزناکه توګه راښکته کړي.

**ولې جنايي پېښې تر سره کېږي؟**

د نړۍ په سطحه په مختلفو هېوادونو کې جنايي پېښې د هغو ستونزو په توګه يادېږي، کومې چې د مختلفو ټولنو وګړو عادي ژوند له خطر سره مخ کوي، سوداګريزې بوختياوې ټکنی کوي او په ټوله کې د يوې ټولنې هر اړخيز امنيت له خنډ سره مخ کوي.

په افريقا، اروپا او آسيايي هېوادونو کې د جنايي پېښو تر سره کېدل، د هغې ننګوونکې ستونزې په توګه پېژندل کېږي چې هر کال په زرګونو شمېر کسان د جنايي پېښو په پايله کې لوټل کېږي، ټپيان کېږي او تر دې چې ځينې يې وژل کېږي.

په همدې بنسټ، په ۲۰۱٦ ز کال کې د ملګرو ملتونو هبيتات پروګرام له مخې، په راتلونکو شلو کلونو کې د هېوادونو مشران بايد د خلکو پر وړاندې د خوندي ښارونو په چمتو کولو او برابرولو کې ستره ونډه ولوبوي او د خوندي ښارونو موضوع د ياد کال ناستې اجنډا د اړينې موضوع په توګه د هېوادونو د مشرانو تر منځ تر بحث لاندې ونيول شوه.

د هبيتات پروګرام د خوندي ښارونو تر بحث را پورته کېدو وروسته، په زياتره افريقايي هېوادونو کې د جنايي پېښو ګراف په را ښکته کېدو دی او لامل يې په يادو هېوادونو کې د ښاروالیو له خوا د هبيتات خوندي ښارونو پلان په اغېزناکه توګه پلي کول دي.

د معلوماتو له مخې، په تېرو شلو کلونو کې د نړۍ په کچه ۵۰ سلنه خلک په ښارونو کې مېشت شوي دي او په اوسط ډول هره مياشت په نړۍ کې پنځه ميليونه خلک ښارونو ته کډه کېږي او ښاري ژوند غوره کوي، چې له دې ډلې څخه ۹۵ سلنه خلک چې ښاري ژوند غوره کوي، د مخ پر ودې هېوادونو وګړي دي.

د لومړنيو آسانتياوو لکه صحي برخې کې آسانتياوو، خواړو، عامه ترانسپورټ کوم چې د يو ښار او سيمې لپاره د ملا د تير حيثيت لري او د امنيت په برخه کې د پوليسو کموالی او يا نشتوالی هغه لاملونه دي چې جنايي پېښو تر سره کېدو ته په مستقيمه توګه لاره هواروي. له دې پرته، ټولنيز ظلم، اقتصادي ستونزې، بېکاري او داسې نور د هغو ستونزو په توګه يادېږي، چې کولی شي په يوه ټولنه کې د جنايي پېښو تر سره کېدو لامل شي.

**په افغانستان کې د جنايي پېښو لاملونه**

له روانو څو لسيزو جګړو پرته يوه بله ستونزه چې د هېواد په کچه خلک تربې کړېږي، هغه د جنايي پېښو زياتوالی دی. په افغانستان کې د جنايي پېښو زياتوالي لاملونه هم څرګند دي، چې له هغې ډلې څخه د هېواد اقتصادي وضعيت کمزورتيا او د بېکارۍ کچې لوړتيا تر څنګ، د مافيايي کړيو شتون، د جګړې اوږدېدل او پر نشه يي توکو د روږدو کسانو زياتوالی او د عامه پوهاوي کموالی يادولی شو.

يوه لويه ستونزه چې په هېواد کې يې د جنايي پېښو له زياتوالي سره نيغ په نيغه مرسته کړې، هغه يوازې پر امنيتي ادارو د خلکو تکيه ده. په داسې حال کې چې له امنيتي ادارو پرته مدني ټولنې، د سيمو مشران او سپين ږيري او علماء کرام هم د جنايي پېښو پر وړاندې مسووليت لري چې بايد تر سره يې کړي.

افغانستان چې د نفوس ډېره برخه يې ځوان قشر نيسي او ډېری ځوانان د کاري بوختياوو نه پيدا کېدو په اړه کړيږي، اړ دي څو له هغو بانډونو او مافيايي کړيو سره يو ځای شي، کوم چې په لويو ښارونو کې جنايي پېښې تر سره کوي.

که چېرته د هېواد امنيتي وضعيت بدلون ومومي او د سولې راتللو ته لار هواره شي، نو لرې نه ده چې ځوان قشر ته په پراخه کچه کاري بوختياوې پيدا شي او دا کار کولی شي د جنايي پېښو په را کمولو کې ستره ونډه ولوبوي.

د کابل په ګډون، د هېواد د نورو ولايتونو مرکزونو په پرتله د هېواد په لرې پرتو سيمو کې د جګړې پراخوالی او هلته د ژوند لومړنيو آسانتياوو نشتون په وجه د ډېرو ولايتونو وګړي يا پلازمېنې کابل ته کډه شوي او يا د ولايتونو په مرکزونو کې مېشت دي. په غير مستقيمه توګه په ښارونو کې د خلکو مېشت کېدل، د ښاري سيستم، عامه ټرانسپورټ او په ښارونو کې د کورونو د ادرسونو او پټو نشتوالی نورې هغه ستونزې دي چې د هېواد په ډېرو سيمو کې يې د جنايي پېښو له زياتوالي سره مرسته کړې ده.

**د جنايي پېښو په مخنيوي کې د اړوندو ادارو همغږي او ونډه**

بل خوا د ولس استازو او امنيتي ادارو تر منځ د همغږۍ نشتون او بې باورې د جنايي پېښو زياتوالي لامل شوي. که څه هم د کورنيو چارو سرپرست وزير مسعود اندرابي د جنايي پېښو ګراف راښکته کېدو لپاره د خپلې اداري وروستۍ لاس ته راوړنې او د راتلونکو پلانونو په اړه وايي چې تر اوسه يې د حوزو په بڼه د پراخه جنايي پېښو تر سره کوونکې شبکې کشف کړې او تر زياتې اندازې يې له منځه وړې دي. په امنيتي ادارو کې د ګومارنو لپاره د ۴۵ پړاوونو تر سره کېدو ته اړتيا ده، چې په راتلونکي کې به ياد پړاوونه شپږو ته را ښکته شي او د مدني ټولنو او عامو خلکو ته به هم پکې ځای ورکړل شي او په راتلونکي کې به د عامو خلکو، د سيمو مشرانو او ملکانو تر څنګ، له علماء کرامو سره همغږي، ناستې او د هغوی مرسته تر لاسه کړي. د ۱۸ کلونو په شاوخوا کې د هغو ځوانانو په اړه له مختلفو کورنيو سره ناستې او د يادو کورنيو مرسته تر لاسه کول چې کم عمره ځوانان او اولادونه يې چاقو، بکس پنجه او نورو تخريبي آلاتو ګرځوي او له دې آلاتو څخه د ځوانانو راګرځولو لپاره به په تعليمي ادارو کې هم د عامه پوهاوي په برخه کې مختلف پروګرامونه تر سره کړي او په راتلونکو څو مياشتو کې به د کابل ټولو حوزو مشران بدل کړي.

که چېرته رښتيا هم د امنيتي ادارو او د ولسي جرګې استازو تر منځ دغسې بې باورۍ او د مافيايي کړيو لاسنيوی دوام لري، نو پر جنايي پېښو د ککړو کسانو نيولو کمپاين به يوازې د تېر په څېر يو شعار پاتې شي. د دې لپاره چې په رښتينې توګه د جنايي پېښو کچه را ښکته شي، اړينه ده څو ټول لوري او په ځانګړې توګه د ولسي جرګې استازي نه يوازې دا چې د امنيتي ادارو پاملرنه د جنايي پېښو را ښکته کولو خوا ته راواړوي، بلکې له امنيتي ادارو سره د هغو کسانو په پيدا کولو کې هم مرسته تر سره کړي، څوک چې د عامو وګړو پر وړاندې جنايي پېښې تر سره کوي.

**پايله او سپارښتنې**

جنايي پېښې چې په وروستيو کې يې په عام ډول د هېواد په کچه او په ځانګړې توګه د پلازمېنې کابل اوسيدونکي له پراخه وېرې سره مخ کړي، اړينه ده څو حکومت ټولې اړوندې ادارې د يادو پېښو راکمولو ته په جدي توګه متوجه کړي. تر ټول د مخه د روانې جګړې ټول لوري بايد د جګړې پای ته رسېدو لپاره خپلې هلې ځلې زياتې کړي، څو سولې ته لاره هواره شي کوم چې د جنايي پېښو په کموالي کې په اغېزناکه توګه ونډه لري. تر دې ورهاخوا، له جنايي پېښو سره مبارزه يوازې د کورنيو چارو وزارت کار هم نه دی، بلکې ډېری ملي اداري بايد په دې اړه خپل کوښښونه وکړي. له هغې ډلې څخه:

څېړنو ښودلې چې د ښوونځي دورې تر پيلېدو وړاندې او د ښوونځي په ابتدايي دوره کې د کورنيو له خوا د کوچنيانو ښه روزنه کولی شي، چې د جنايي پېښو کچې په راښکته کولو کې ستره او اغېزناکه ونډه ولري، چې بايد کورنۍ دې برخې ته جدي پاملرنه وکړي.

د ټولنې مالداره قشر بايد د بېوزله کسانو مالي لاسنيوی وکړي. د دې کار په تر سره کېدو سره به له يوې خوا د الله تعالی حکم چې زکات ورکول دي، تر سره کړی وي او له بلې خوا دا کار په راتلونکي کې د هغوی او د هغوی د اولادونو او دوستانو ژوند ژغورلی او خوندي کولی شي.

د مسجدونو امامان، د ښوونځيو او پوهنتونونو استادان، رسنۍ او په ځانګړې توګه کورنۍ کولی شي څو ځوانان د مخدره توکو له استعمال څخه راوګرځوي او د مخدره توکو له منځه وړلو په مبارزه کې خپله ونډه ولوبوي.

د عامه ټرانسپورټ اسانتياوو رامنځ ته کول، ځکه زياتره جنايي پېښې د عامه ټرانسپورټ د نشتون په وجه په شخصي موټرونو کې رامنځ ته کېږي.

د هېواد د ټولو ولايتونو په سطحه ښاروالۍ بايد د جنايي پېښو را ښکته کېدو په اړه هر اړخيز پلانونه ولري. څېړنو ښودلې چې په سويډن هېواد کې د جنايي پېښو را ښکته کولو کې ښاروالیو ٦۰ سلنې ونډه لرلې ده.

د عدلي او قضايي سيستم د اغېزمنتيا لپاره کار کول او د مختلفو ادارو تر منځ همغږۍ هم کولی شي په اغېزناکه توګه جنايي پېښې راښکته کړي.

د هېواد د ټولو وګړو له لوري د الکترونيکي پېژندپاڼو تر لاسه کول، کوم چې د مجرمينو په پېژندلو کې مرسته کولی شي. همدارنګه د ښاروالیو له خوا د کورونو دقيق ادرسونه نه رامنځ ته کول، څو امنيتي ادارې پر وخت او په آسانه توګه د جنايي پېښو پر وړاندې د ژغورنې کړنې تر سره کړي.

هغه کسان چې د جنايي پېښو په تړاو نيول شوي، هغوی ته د بند په موده کې د سمې روزنې پروګرامونه برابرول، څو په راتلونکي کې د يادو ناوړه پېښو له تر سره کېدو څخه وژغورل شي.


کورنۍ او د ښوونځي استادان کولی شي د کوچنيانو او ځوانانو په اخلاقي او تربيتي روزنه کې ښه ونډه ولري. داسې چې په کوچنيانو او ځوانانو کې له الله جل جلا له څخه وېره او د ناوړه کارونو نه تر سره کې دو پيغام هغوی ته په ښه او سمه توګه ورسوي.

رسنۍ بايد د هغو سريالونو او فلمونو خپرولو څخه منع او راوګرځول شي، کوم چې د کوچنيانو او ځوانانو په ناسمه روزنه کې ونډه لرلی شي.

## ټاکنو کمېسيون: د بياشمېرنې د محلونو اصلاح شوی نوملړ مو تر اوسه نه دی تر لاسه کړی

د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي، د بياشمېرنې د محلونو په نوملړ کې د ستونزو له امله د رايو د بياشمېرنې بهير تر اوسه نه دی پيل شوی او نوملړ يې د دويم ځل اصلاح لپاره شکايتونو کمېسيون ته استولی دی.

د دغه کمېسيون د وياند د دفتر سرپرست سيد ذبيح الله سادات ويلي، چې ياد کمېسيون د رايو ورکونې د محلونو تفتيش او بياشمېرنې د بهير پيل ته پوره تياری لري. هغه زياته کړې، لکه څنګه چې د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د ۱۹ ولايتونو د رايو د تفتيش او بياشمېرنې مکتوب له موږ سره شريک کړی، خو د نومونو په ضميمه کې ۲۱ ولايتونه ذکر شوي دي.



د ده په خبره، په همدې موخه يې د هغو محلونو نوملړ چې ښايي تفتيش او بياشمېرنې ته لاړ شي، د اصلاح لپاره ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ته استولی دی.

سادات دغه راز زياته کړې: «هرکله چې اصلاح شوی نوملړ موږ تر لاسه کړو، موږ يې تفتيش او بياشمېرنه پيلوو».

ټاکنيزو شکايتونو ته د رسېدنې او ثبت په لومړي پړاو کې د ټاکنيزو ټکټونو له خوا ۱٦۵۰۰ شکايتونه ثبت شوي وو، خو د اعتراضونو د ثبت او ورته د رسېدنې په دويم پړاو کې، د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د ولايتي دفترونو د پرېکړو په اړه، له شپږ زره ډېر د استيناف غوښتنو اعتراضونه ثبت شوي دي. د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ويلي، د ولايتي کمېسيونونو د پرېکړو په اړه د ټاکنيزو ډلو استينافي شکايتونو ته رسېدنه به لس ورځې نور وخت هم واخلي.

خو د ټاکنو د مهالوېش له مخې، هغه ۳۹ ورځې وخت چې د ياد کمېسيون له خوا د ټاکنيزو ټيمونو شکايتونو ته د رسېدنې لپاره ورکړل شوی و، تر پنځو نورو ورځو پای ته رسيږي.

د يادونې ده چې ولسمشريزې ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه تر سره شوې چې له هغه وخت راهيسې پنځه مياشتې تېرېږي، خو وروستۍ پايلې يې نه دي اعلان شوې.

د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۰ |
| € | ۸٤,۸۰ |
| Rp. | ٤۸٦ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

بيړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې شپږمه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۶مه | ۵۰۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ٩ | ١٤ | ٨ | ١٧ | ١٣ |
| -٧ | -١ | ٣ | ٠ | ٥ | ٣ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۶ | ماسپښین ۱۲:۰۶ | مازیګر ۰۲:۵۶ | ماښام ۰۵:۱۶ | ماخوستن ۰۶:۴۳

## باشنده‌گان کابل: تلاش‌های پولیس برای جلوگیری از جرم‌های جنایی موثر نبوده‌اند



شماری از باشنده‌گان کابل می‌گویند، با آن‌که مدت‌ها است از افزایش جرم‌های جنایی نگرانی و شکایت داشته‌اند، اما جرم‌های جنایی در کابل کاهش نیافته‌اند.

آن‌ها می‌افزایند، پس از تاریک شدن هوا، در کوچه و پس کوچه‌های شهر آزادانه گشت وگذار کرده نمی‌توانند.

رشاد که در منطقهٔ گذرگاهٔ کابل دُکان قصابی دارد، می‌گوید که تفنگ‌داران ناشناس پس از ساعت شش شام به دُکانش داخل شدند و بر وی شلیک کردند.

او می‌گوید: «[مهاجم] آمد، داخل دکان شد؛ من فکر کردم که از مشتریان است و گوشت ضرورت دارد، اما تفنگچه را کشید و فیر کرد».

اعضای خانوادهٔ رشاد و نیز دوستانش، از بی‌پروایی مسؤلان امنیتی در برابر این رویدادها انتقاد می‌کنند.

اورنگ زیب نیز می‌گوید که نزدیک به یک ماه پیش دُزدان مسلح به خانهٔ پسر عمه‌اش داخل شدند و تمامی پول و زیوراتش را با خود بردند، اما تاکنون از بازداشت عاملان این رویداد خبری نیست. باشنده‌گان کابل تأکید دارند که تلاش‌های نیروهای امنیتی برای جلوگیری از جرم‌های جنایی موثر نبوده‌اند.

اما، پولیس کابل از بازداشت ده‌ها تن به اتهام داشتن جنگ افزارهای غیرقانونی و جرم‌های دیگر خبر می‌دهد.

فردوس فرامرز، سخن‌گوی فرماندهی پولیس کابل بیان داشت: «۵۳ تن را در پیوند به جرایم مختلف جنایی مانند قتل، مجروحیت، حمل سلاح غیر مجوز، سرقت وسایط و منازل چور و چپاول، جنگ مغلوبه و فساد اخلاقی بازداشت کردیم».

## نړۍ




## د عراق امنیتي ځواکونو د حکومت ضد لاریونوالو خېمې سوځولې

د راپورونو له مخې، د عراق امنیتي ځواکونو تېره ورځ په پلازمېنه بغداد کې د حکومت ضد لاریونوالو خېمې سوځولې او د بغداد له مهمې څلور لارې یې شړلي دي.


دا په داسې حال کې ده چې لاریونوال له څو میاشتو راهیسې په دې سیمه کې راټول شوي وو او په حکومت کې یې د پراخو اصلاحاتو د راتلو غوښتنه کوله. امنیتي ځواکونو له هغه څو ساعته وروسته دغه اقدام کړی چې د دغه هېواد روحاني مشر مقتدی الصدر اعلان وکړ، چې نور د عراق د ځوانانو د غورځنګ ملاتړ نه کوي.

په ورته وخت کې صدر نور اعتراضونه پیل کړي او له دغه هېواده د بهرنیو ځواکونو وتل غواړي.

د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د راپور له مخې، د عراق امنیتي ځواکونو د مظاهره کوونکو د شړلو لپاره له لرګیو، اوښکې بهوونکي ګاز او نورو وسایلو کار اخیستی دی. په ورته وخت کې د بغداد د یوه روغتون مشر ویلي چې د مظاهره کوونکو د شړلو او خورولو پر مهال ۱۹ تنه ژوبل شوي دي.

د یادونې ده چې په عراق کې لسګونو زرو خلکو د تېر کال د اکتوبر په میاشت کې د عامه خدمتونو د کموالي، اقتصادي وضعیت د خرابوالي، کاري زمینو د نشتوالي او په حکومت کې د فساد پر ضد لاریونونه پیل کړي چې په ترڅ کې یې تر دې دمه نږدې ۵۰۰ کسان وژل شوي دي.

## د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا پر ناروغۍ اخته کسان تر ثبت شویو شمېرو ډېر دي




د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، د کرونا په نوم وژونکي ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره د هڅو له چټکېدو سره به څرګنده شي، چې پر دې ویروس د ککړو خلکو شمېر تر هغه زیات دی چې تر اوسه ثبت شوی دی.

د دې سازمان ویاند طارق یاسرویچ په جینوا کې خبریالانو ته ویلي چې په اوس وخت کې دوی د معلوماتو پر راغونډولو او د وضعیت پر څېړنه بوخت دي. یاسرویچ ویلي: «دا چې د کرونا ویروس د خپرېدو مسئله څومره خطرناکه ده، لا نه شو ویلای؛ ځکه هر وخت چې داسې ویروس خپرېږي، پر ډېرو خطرناکو پېښو یې تمرکز کېږي او په داسې وخت کې ښایي ځینې پېښې چې په کمزوري پړاو کې دي، له پامه وغورځول شي. ځینې کسان ښایي کم ناروغ او حتی بېرته جوړ شي، خو د خارنې له زیاتېدو سره ښایي د دې زیاتې پېښې په ابتدایي مرحلو کې وپېژندل شي».

دا په داسې حال کې ده چې د کرونا ویروس لومړۍ پېښه د چین د هوبای ولایت په مرکز ووهان ښار کې ثبت شوې وه. د رپوټونو پر اساس، په چین کې تر ۸۰۰ زیات کسان پر دغه ویروس اخته شوي او تر پرون پورې یوازې په چین کې ۲٦ کسان مړه شوي دي. د چین د رسنیو په حواله، په ووهان کې چې یوولس میلیونه وګړي لري، روغتونونه د ناروغانو لپاره کافي چپرکټونه نه لري.

## ژوند


## د موخې درلودل او ګټه یې




مور تل دا هیله لرو چې ژوند مو له بریاوو او سوکالۍ ډک وي، هر څوک بریا او پرمختګ له بېلې زاویې ویني؛ کېدای شي د هغه لیدلوری له نورو سره متفاوت وي، هر سړی دا هیله لري چې په خپل لاس جوړه کړې نړۍ کې د سلطنت پر تخت کښېني.

کېدای شي په مالي برخه کې وي یا په کورنۍ چارو کې یا کېدای شي د زده کړې په برخه کې وغواړي چې د سلطنت پر تخت کښېني، هر څه چې وي، خپله نړۍ یې ده، باید په همدې سترګه ورته وګوري. په هر حال، د ښه ژوند لپاره مونږ باید ډېر شیان بدل کړو، مونږ اړیو چې د ښه ژوند لپاره په خپل ورځني ژوند کې سلګونه بدلونونه راولو او هغه څه چې مونږ خپلو هیلو ته رسولی شي، په دقیقه توګه وڅېړو او کار وربانديې وکړو، څو مو ښه او سوکاله ژوند ته لاره هواره شي. موخه د یوه (GPS) په څېر عمل کوي، طرف درته په ګوته کوي او مرسته در سره کوي، څو وکولای شی د ژوند اصلي لورې د ځان لپاره وټاکی.

## دغه خواړه مو خېټه وړوي



ډېر خلک له زیات وزن او په تېره بیا د خېټې له غټوالي شکایت کوي او د کموالي په اړه یې اندېښمن دي. ځینې خواړه چې په هر پخلنځي کې پیدا کیږي، کولای شي د خېټې له کموالي سره مرسته وکړي.

سره بانجان: سره بانجان د وینې جریان ګړندی کوي او د خېټې وازده ویلې کوي.

نعناع: نعناع د وجود میتابولیک سیستم پیاوړی کوي او د انتي اوکسیدانو په توګه کار کوي. دا ټول د خېټې وازده او چربي ویلې کوي. د منې جوس: منه چې د مېوو ملکه هم بلل کېږي پر نورو ګټو سربېره، د وزن له کموالي سره هم مرسته کوي.

د لیمو جوس: یو ګیلاس اوبه او یو یا نیم لیمو او یوه کاشوغه شهد (شات) سره ګډ کړئ او ویې څښئ. دغه شربت د خېټې د اضافي وازدو په ویلې کولو کې درسره مرسته کوي.

هندوانه او بادرنګ هم د خېټې وازدې له منځه وړي. هندوانه او بادرنګ زیاتې اوبه لري، چې د وجود لپاره ډېر ګټور دي.

هوره: هوره د ډېرو نورو ګټو تر څنګ، د وزن او خېټې په کموالي کې مهم رول لري.


خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بډایه کړئ

- دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانې او سفارتونه پرانېستلی شي.
- حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پوندو پرانیستل کیدای شي.
- د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
- د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
- د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړیني دي.
- د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمېرې اړیکه ونیسئ.

www.azizibank.af | 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH

Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN

AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af